لیکوال: سرلوخ مرادزی نېټه ۲۸-۰٤-۲۰۱۱

د بریژینسکي جهاد، د نظارشورا جشن

د غوايي په اتمه د نظارشورا، ستمیانو او پرچمیانو کې ځانګړي ډلې د کارمل ـ بریالي په مشرۍ چې په ټوله کې ګډې سیاسي او ستراتیژیک ګټې لري **د افغانستان په ضد کودتا** وکړه.
دا کودتا چې ښکاره د پخواني جمهور رییس ډاکټر نجیب الله او د هغه له واک سره په دوښمنۍ کې تر سره شوه حقیقت کې د لنډ مهال لپاره د افغانستان د پخوانۍ اردو، دولت او اداري له منځه وړلو او د اوږد مهال لپاره د افغانستان د ملي ګټو، هویت او تاریخ د چپه تفسیر او مسخه کولو په موخه پکار واچول شوه.
دا کودتا د اروابناد سردار داوودخان د ۱۳۵۲ کال د چنګاښ د ۲۶ مې او یا د غوايي د اوومې نېټې د کودتا پشان نه وه چې هلته د حکومت تغییر او یا دولت کې د سیاستونو تغییر اصلي موخه وه، بلکې ددې کودتا اصلي موخه دا وه چې اوږدمهال کې د افغانستان نښچه په بله واوړي، ملي هویت بدل شي او تاریخ د ټاکلي ایتنکي ګروپ په ګټه له سره تفسیر او یا افغانستان تجزیه او د دوی په خوښه نوي واکمنۍ رامنځته شي.
که تېرې کودتاوې د حکومتونو او سیاستونو پر ضد وې خو د غوايي د اتمې کودتا د **افغانستان په ضد کودتا** ګڼلې شو!
د غوايي اتمې نېټې کودتا کې د نوموړو سیکټاریستي ډلو سره، اسلامي جمعیت چې د جهاد په مهال یې د پان اسلامیزم ډېره پر سینه وهله او د واک په مهال د سیکټاریزم په ډنډ کې غوپه شو او د هزاره ګانو جهادي ګروپونه هم د ختې او ګټې په لحاظ ملګري وو.
کودتا لپاره چمتووالی لامخکې هغه مهال نیول شوی و، چې رباني له پنجاب څخه د حرکت تنظیم د مشرمولوي محمدنبي محمدي په ګډون ماسکو ته تللي وو.
دې کودتا کې نه یوازې ملا محمدي بلکې نور مجاهدین هم ساده ښکار او یرغمل ونیول شول. دا خبره چې د غوايي د اتمې کودتا د مجاهدینو په مټ ترسره شوې، هسې خندنۍ ډرامه ده. کله چې کودتاچیانو هرڅه ترسره کړل او دولتي واک یې خپلو کې سره وویشه، اسلام اباد چې لا پخوا تر هرڅه خبر او کودتا یې په سلا ترسره شوې وو، بویه په جریان کې شو. ای ایس ای وښورېده او پنجاب کې پاتې مجاهدینو ته یې لاره اواره کړه چې کابل کې د واک، غنایمو او د جهاد فضایلو په ویش کې له نظارشورا او نورو څخه روسته پاتې نشي، هلته وو چې مجاهدینو پر بریتونو ګوتې کش کړې چې ګوندې د دوی جهاد ثمر ته ورسید او په کابل راپریوتل.
نظارشورا او جمعیت چې د واک اصلي زیرمې یې خپلو موټو کې ټینګې کړې وې په نورو جهادي ډلو کې یوازې خپلو ګمارل شویو کسانو ته یوه نیمه چوکۍ ورکړه او نور یې د واک په تمه زړه شیني او ځاره چاودې پرېښودل.
دوی له شمال سربېره په جلال اباد، کندهار او نورو ختیځو او سهیلي سیمو کې هم خپل پلویان او خواخوږي وټاکل. په جلال اباد کې د قدیر او حضرت علي سرېخواره اوس هم په غټو خبرو کې د نظارشورا د لارې پلویان دي.
کله چې د مجاهدینو نورو ډلو د لیوه او ګېدړ دا ویش ولید، فکر یې سر ته راغی خو بیا وخت له وخته تېر وو. د لېوه او ګېدړ د همدې ویش په پایله کې کورنۍ جګړه پیل شوه او د جهاد اصلي څېره چې لا مخکې مجاهدینو سره د مرستې او پلانونو د کوردینه کوونکي امریکایي سلاکار بریژینسکي په مټ انځور شوې وه، د سپیناوې ډګر ته راووته. بریژینسکي هغه امریکایي دی چې ځیني مجاهدین یې د پنجاب د پخواني دیکتاتورضیاالحق پشان د جهاد پلار ګڼي. د جهاد د شعارونو پیر پای ته ورسید او د هغه د ثمر وخت راورسید. ټول هغه څه چې د لویدیځ او پنجاب لخوا د ساده زړو افغانانو د تېرایستلو لپاره د سپیڅلي جهاد تر ماسک لاندې په مهارت پټ شوي وو، یو به بل پسې ښکاره او ولس ته د لېدو وړ وګرځېدل. کابلښار د ویجاړۍ نښچه پلې شوه. ۶۰ ـ ۷۰ زره بېګنا کابلیان له تیغه تېر شول. ټول افغانستان لوټ او چور شو، پنجاب او نورو هېوادونو ته وچلول شو. خو کال ته دا ټولې ورانۍ او کنډر شوی کابل د غوايي په اتمه د جشن په دودیزه کې د کابلیانو، افغانانو او نړیوالو په مخ کې ننداري ته کېښودل شوو!
دا چې هر کال د غوايي اتمه چې واک ته د نظارشورا د رسیدو ورځ ده، د نورو مجاهدینو لخوا لمانځل کېږي د شرم خبره ده. اوس هم کابل کې واک د نظارشورا دی، جشن د نظارشورا دی ایا شرم نه دی چې د مجددي، پیر سید احمد ګیلاني، د کرزی شاوخوا، افغان ملت او نورو ډلو استازي ورته اتڼ اچوی او په پردي جشن کې ځني غورځوي!
نظارشورا او اسلامي جمعیت د کارمل ـ بریالي هغه پرچمیانو سره چې په خټه پښتانه وو او له ناپوهۍ څخه دوی سره په لار ملګري شوي وو، هم وفا ونکړه. دا شورا چې د دوی په مټ واک ته رسیدلې وه د دوی یو شمېر یې له مهمو دندو وشړل او یو شمېر یې له تیغه تېرکړل. دلته یې د بېلګې پټوګه د نور الحق علومي د ورورعبدالحق علومی او محمد قسیم نومونه رااخلم.

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اوس که د جهاد ټوله ثمره او توښه رالنډه کړو : ولسونه پکې قتل عام شول، پښتنانه روشنفکران او نور ملي کسان پکې له یو مخې پوپنا شول، ټول افغانستان پکې لوټې لوټې او کنډر کنډر شو.
امریکا پکې سیمې ته راغله. پنجاب پکې اباد، په خپټه موږ، متمدن او عصري شو او نظارشورا پکې واک او جشنونو ته ورسیده. د جهاد مافیا پکې شتمنه شوه. د افغانانو او په تېره بیا د پښتنو پکې ستړه ووته او دا لړۍ اوس هم روانه ده!
که مبارزه، غورځنګ، جهاد او یا په داسې نومونو بل هر شی د ملي ګټو، د هېواد ابادۍ او د ولس سوکالۍ لپاره مرستندوی نه وي که هر سپیڅلی نوم ورکړو، دوه توته ارزښت نلري.
هغه ملت چې له خپل تاریخ څخه یې نه زده کوي، بیا بیا تجربو ته اړوځي!

پای

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ